سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۲/۰۵

# جګړه هغه څوک ګټي چې ختمه یې کړي.

سرتمبګی، په خپله خبره او دریځ مطلق ټینګار او د نورو خبری ته اهمیت نه ورکول، ناروغي ده، هسی ناروغی چې کله خپله انسان، کله یې کورنی او کله حتی ټولني ته هم سخت زیانونه رسولی شی.

تر کومه ځایه چې څرګنده ده دا ناروغي په هغو اشخاصو کې زیاته لیدله کیږی چې د استحقاق نه پرته یې په ټولنه کې د بیلابیلو لاملونو په بنیاد لوړ مقام او موقف تر د لاسه کړی وی. داسی کسان د وخت په تیریدو او د ده په شاوخوا د ټولنی تر ټولو دزیاتو چالاکو او چاپلوسو کسانو را ټولیدو له کبله ، چې ده ته یی کاذب شخصیت ورکړیدی، داسی فکر کوی چې دئ د دی موقف او مقام تر ټولو ښه او لومړی مستحق دی. کله چې دا شخص خپل ځان د قدرت په داسی آینه کې وګوری نو بیا فکر کوی چې وخت هم باید د ده په خوښه فیصله وکړی او هغه څه را منځ ته کړی چې دی غواړی، حال داچې د وخت غوښتنه د ده د غوښتنو سره ارخ نه لګوی او د ساعت ستنه د ده د غوښتنی په اساس سرچپه حرکت نه کوی. ترڅو چې دا ښاغلی د خپل شنه آس نه، را کوزیږی وخت تیر وی اوحالات بدل شوی وی.

زه فکر کوم چې په دی برخه کې د مثال راوړلو ته ځکه اړتیا نه لیدله کیږی چې په ټوله نړی کې په زرو تنو زمامدارانو او واکمنانو کې شاید یو یا دوه تنه داسی پیدا شی چې وخت وپیژنی او د وخت غوښتنو ته سم ځواب ورکړی.

خبره نه اوږدوم نژدی شل کاله کیږی چې امریکا او ورسره د ناټو د نظامی تړون هیوادونود امریکا په مشری په افغانستان کې، تر دی نامه لاندی چې د تروریزم سره مبارزه کوی وسله وال حضور لرلی دی. خو تر دا ننه یی نه تروریستان و پیژندل او نه یی هغه قوتونه چې د نړیوال تروریزم حمایت، پالنه او روزنه کوی تشخیص کړل. که یی پیژندلی او تشخیص کړی هم وی سترګی پری پټی کړیدی. دا حالات سړی ته داسی ور ښای چې تروریستان د همدی لویو قدرتونو د ګټو د پاره یوه مؤثره پروژه ده او د تروریزم مرسته کونکی هیوادونه او مؤسسی هم د همدی لویو قدرتونو سره په هماهنګی خپل وظایف سرته رسوی. خو د دوی د دی لوبو ټول قربانیان په ټوله نړی کی تر ټولو بیچاره وګړی دی.

نژدی یو کال کیږی چی د امریکا او د افغان وسله والو طالبانو تر منځ د سولی خبری روانی دی، تر اوسه د دی خبرو یوولس پړاونه سرته رسیدلی خو نتیجه یی لا هم نه ده ورکړی، بلکی تاو ترخوالی لاپسی زیات شویدی. د امریکا پلاوی طالبانو ته نوی نوی شرطونه وړاندی کوی او طالبان هم بی له دی چی د خپلو وطنوالو بد حالت په پام کی ولری د خپل دریځ نه یو انچ هم تغیر نه منی.

د افغانستان د ملی یووالی دولت چی داکتر اشرف غنی او داکتر عبدالله عبدالله یی مشری کوی، د تیرو پنځو کالو په موده کی بی له دی چی یو بل ته خندونه جوړ کاندی او بی له دی چی و پوهیږی چی د دوی د زور آزمایلو په نتیجه کی د دوی ولس د څومره ستونزو سره مخامخ دی، لا هم غیږ په غیږ دی او د وخت یوه غوښتنه هم ورته نه ارزښت لری او نه دا فکر کوی چی د دوی د زور آزمایلو تاوان د دوی له ولس نه اخستل کیږی.

د امریکا زمامداران غواړی چی دزمانی او خپل امریکای ولس له غوښتنی پرته، نه یوائی په افغانستان کی بلکی په ټوله نړی کی د واک چلولو ته نوی او لا نوی لاری چاری و لټوی. دا ورته اهمیت نه لری چی د روانی زمانی غوښتنه له انسان څخه د جهان په هکله څه ده؟ او کوم حالات چی دوی را منځ ته کړیدی د نورو انسانانو په ځیر د دوی د خلکو نه هم قربانی اخلی (البته د بیچاره او مظلومو خلکو څخه)

ډاکټر اشرف غنی چی د افغانستان جمهور رئیس دی، بی له خپلی پوهی پرته ، نور هیچا ته په دی قایل نه دی چی د دی وطن د خیر د پاره، کار خو څه چی حتی فکر هم کولی شی. هرڅه چی دی وایی نور باید بی له دی چی فکر پری وکړی ومنی او خپل نظر د مطلق قبولیت حد ته ورسوی.

ډاکټر عبدالله عبدالله د یوه جهادی فاتح په توګه ځان او خپل ملګری د دی مستحق ګڼی چی دا وطن له شماله تر جنوبه او له شرقه تر غربه پوری د دوی شخصی ملکیت دی ترڅو چی دوی ژوندی وی دوی به یی واکمنان وی او که دوی نه وی نو بیا د دوی اولادونه د دی مستحق دی چی په دی ولسونو حکمرانی وکړی. دوی په ټول قوت سره دا غواړی چی سوله هم د دوی په خوښه راشی او دولت هم د دوی نه جوړوی.

طالبان هم هسی یوه ډله ده چی ، ځانونه ورته د دی وطن اصلی خاوندان ښکاری، ځکه د شلو کالو نه زیات وخت یی د جنګ په میدان کی تیر کړی، شهیدان یی ورکړی، د وطن د آزادی د پاره جنګیدلی دی او تر ټولو مهمه دا چی د الله (ج) د رضا د پاره د اسلام د مبارک دین ساتونکی او د خدای په ځمکه د محمدی(ص) غرا شریعت د تطبیق د پاره یی خپل سرونه په لاس کی نیولی دی. نو که څوک د دوی سره سوله کوی د دوی ټولی غوښتنی باید پوره شی او دولتی حاکمیت، لکه څنګه چی ورنه اخستل شویدی باید بیرته ورته وسپارل شی.

اوس نو د داسی دریځونو په لرلو سره افغان ولس باید څومره دی ته هیله من شی چی سوله به راشی او هغه هم یوه واقعی سوله؟؟

که د یوی شیبی دپاره داسی و منو چی امریکا نور نه غواړی چی په افغانستان کی مالی او ځانی تاوانونو ورته ورسیږی، دا وطن پریږدی او بی له قیدو شرطه خپل کورته ځی، نو دا دری د افغانستان د خلکو په سرونو نازل شوی قوتونه (د اشرف غنی د ارګ ډله، د عبدالله د سپیدار د ماڼی ډله + خپل سری سیاسیون + زورواکی + مافیایی

موسسات او د طالبانو دری ځلورډلي) به په داسی حال کی چی د سیمی استخباارات هم د هر یوه په کریوان کی لاس اچولی دی، څنګه به د داسی سولی زیری دی ملت ته ورکړی چی  د اور له لمبو او در به دریو نه  وژغوری؟

زما په اندی دا معمی یواځی یو حل لری او  هغه داچی: د داکتر غنی ډله چی د نړی دویم نمبر مفکر او سیاسی مغز یی په راس کی دی، د ډاکټر عبدالله عبدالله د سپیدار ډله جمع یی نور پهلوانان چی د نړی تر ټولو فیشنی روشنفکر ډاکټر یی مشری کوی او د طلبه کرامو ډله چی د الله ج د احکامو نه باخبر عالمان یی مشران او رهبران دی، د یوی اونی د پاره صرف په دی فکر وکړی چی دا روانه زمانه د دوی په څیر له واکمنانو نه څه غواړی اود زمانی دا غوښتنې چی د ټولو خیر پکی نغښتی وی کومی دی او څنګه ورته رسیدلی شی؟؟ زه پوره باور لرم چی که دوی د عقل نه کار واخلی دحل لاره په استنی سره میندلی شی او بی له کومی ستونزی ټول په شریکه د دی جوګه کیدای شی چی جګړه پای ته ورسوی او واقعی سوله را منځ ته کړی. چی په دی صورت کی هیچا جګړه نه ده بایللی بلکی ټولو ګټلی ده، ځکه چی هغه یی ختمه کړیده. نوځکه دا خبره بیخی سمه ښکاری د جګړی ختمونکی د جګړی ګټونکی دی.

پای.

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

جګړه هغه څوک ګټي چی ختمه یی کړی